مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شریف الله دوست
۲۰۱۹/۰۵/۰۱

# په پښتو ژبه کښي د ایتمولوژیکي څېړنو ضرورت

ایتمولوژي(رېښه پوهنه) د تاریخي ژبپوهني ځواکمنه څانګه ده چي په ژوره توګه د یوې ژبي د لغتونو رېښه څېړي. د ایتمولوژیکي څېړنو تر څنګ د ځینو نورو ترلو علومو و مطالعه هم ضروري ده، لکه ټبرپوهنه، ټولنپوهنه (سوسیالوجي) او لرغونپوهنه. د ایتمولوژیکي(رېښه پوهنیزو) څېړنو په برخه کښي د پښتو ژبي لمنه تشه ده. له دي مخکښي که د ایتمولوژۍ په برخه کښي څه کارونه سوي وي د ژبپوهني د نویو معیارونو سره سم نه دي سوي ځکه ایتمولوژیکي څېړني د احتیاط تر کچي خورا پیچلي، باریکه او اساسه مسئله ده. په هره ژبه کښي چي د لغتونو رېښه څېړل کیږي باید د ایتمولوژیکي قوانینو په رڼا کښي وشنل او وسپړل سي که نه څېړنه به مو د خورا علمي ښویدنو سره مله او تله وي. ایتمولوژي ارتیا هغه وخت محسوسیږي چي یوه ژبه کثیرالهجوي وي او معیاریي لیکدود ورته جوړیږي. همداسي د پښتو ژبي د لغتونو ایتمولوژیکي څېړنه درانه کار ته ضرورت لري ځکه تر اوسه په پښتو ژبه کښي د رېښه پوهني منلی قاموس او فرهنګ نه لرو. دا کار د یوه تن له وسه وتلي چاره ده او باید علمي او اکاډمیک مرکزونه ورباندي اوږدمهال دېله ییز کار وکړي. د پښتو ژبي د لیکل سویو قاموسونو یوه نیمګړتیا دا هم بلل کیږي چي د لغتونو رېښه لکه څنګه چي ضرورت و هغه سي نه ده څېړل سوي او ښوول سوې. حتا په بې فهمی او ناخبري سره د پښتو ژبي خپله لغوي پانګه د نورو ژبو په نوم سوې او یا هم د احساساتو له مخي د نورو ژبو لغوي پانګه خپله بلل سوې ده چي څو بولګه ونه به یې په متن کښي د نموني په ډول وښوول سي. په دې برخه کښي د شته ستونزو حل ته ضرورت لیدل کیږي چي خورا لوی تحقیقي بحث ته اړتیا لي خو لته هڅه سوې چي د امکان تر حده په لنډو ټکو کښي دا ستونزي را څرګندي او حلاري ورته پیدا کړو.

✓ **د ایتمولوژۍ لنده پېژندنه**

په انګریزي ژبه (Etymology=ایتمولوژي) نوم یا noun دی چي په UK تلفظ /ˌet.ɪˈmɒl.ə.dʒi/ او په US تلفظ /ˌet̬.ɪˈmɑː.lə.dʒi/په پښتو ژبه (رېښه پوهنه) یا د لغتونو او وییونو د رېښو تاریخي مطالعه او تحول علم دی چي د ژبپوهني خورا ارزښتناکه څانګه بلل کیږي. په دې برخه کښي ځیني دي پوښتنو ته ځوابونه پیداکیږي چي یو ویی یا لغت څه وخت ژبي ته راغلی؟ له کومي منبع راغلی؟ او د وختونو په اوږدو کښي یې څه تغییرات په جوړښت کښي راغلي دي او په معنا کښي یې کوم بدلونونه راغلي دي.

په ټولیز ډول ویلای سو چي ایتمولوژي په ختیځ کښي د عربو ایجاد دی لکه خپله چي عرب څېرونکي ادعا کوي: د ایتمولوژۍ علم تر ټولو دمخه په عربي ژبه کښي د اشتقاق تر سرلیک لاندي غوړېدلی دی په دې هکله په (العلم الخفاق من علم الاشتقاق) ۲۰۱۲م د لبنان چاپ کښي راځي:

*"الاشتقاق من الفنون التی امتاز بها العربیة، ومن العلوم المخترعة التی صنعا العقل العربی، و قد لقی من اهتمام علماء اللغة منذ بدأ تدوین اللغة و لعل اقدم ما وصل الینا مؤلفات هذالفن هو کتاب اشتقاق الأسماء "* ([1])

ژباړه:

د اشتقاق د فن د (نوښت) امتیاز په عربي ژبه پوري ترلی دی. دا هغه علم دی چي عربي عقل اختراع کړی دی او د ژبپوهانو اهتمام دی چي له لومړني تدوین څخه یې هڅه پیل سوی ده؛ په دې فن کښي لومړنی کتاب چي تر موږه را رسېدلی دی هغه د الأسماء اشتقاق کتاب دی .

تر دې دمه چي موږ ته په عربي ژبه کښي د اشتقاق د علم په فن کښي کوم لرغوني کتابونه را رسېدلي دي په دې ډول دي:

۱. کتاب الأشتقاق: د ابي علي محمد بن المشیر په قطرب پېژندوی، ۲۰۶ هجري مر.

---

۱. محمدصدیق خان، العلم الخفاق من علم اشتقاق، مؤسسه الکتاب الثقافیه، الطبعة الأولی، لبنان ۲۰۱۲م،ص ۳



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

۲. كتاب الأشتقاق الأسماء: د ابي سعيد عبدالمالک بن قريب بن عبدالمالک په أصمعي باندي پيژندوی، په ۲۱۵ هجري کال مړ. دا کتاب په ۱۴۰۰ هجري کښي دکتور رمضان عبدالتواب او دکتور صلاح الدين الهادي په زيار خپور سوی دی.
۴. كتاب الأشتقاق: د ابي الحسن سعيد بن مسعده الأخفش الأوسط ، په ۲۱۶ هجري کال مړ.(۲)
۵. كتاب الأشتقاق الأسماء: د ابي نصر أحمد بن حاتم الباهلي ابن أخت الأصمعي ، په ۲۳۱ هجري.
۶. كتاب الأشتقاق اسماء القبائل: أبي بكر محمدبن الحسن، دريد ۳۲۱ هجري مړ. دا کتاب عبدالسلام هارون په ۱۹۵۸ هجري خپور کړی دی.
۷. الأشتقاق والتعريب: د علامه عبدالقادر مصطفی المغربي اثر په ۱۳۱۶ هجري مړ.
۸. په پورتني کتاب کښي ټول ۲۱ د اشتقاق اړوند کتابونه ښوول سوي دي.

**په کمبريج ډيکشنري کښي کښي ايتمولوژي داسي ښوول سوې ده:**

Etymology **:the study of the origin and history of words, or a study of this type relating to one particular word.(3)**

**ژباړه:**

ايتمولوژي د لغتونو تاريخي او ريښوي څېړني ته وايي. د يوه لغت د ډول ډول څېړل د هغه له اصل او منشاء سره ايتمولوژي بلل کيږي.

**اکسفورډ ډيکشنري:**

Etymology/ˌɛtɪˈmɒlədʒi/:
The study of the origin of words and the way in which their meanings have changed throughout history.(4)

ژباړه:

د لغتونو د ريښي او منشاء څېړلو لار چي معناوو يې په تاريخي لحاظ تغير مونډلی وي ايتمولوژي بلل کيږي.

: کښي Wikipedia, the free encyclopedia په

**Etymology** (/ˌɛtɪˈmɒlədʒi/)[1] is the study of the history of words, their origins, and how their form and meaning have changed over time.[1] By extension, the term "the etymology (of a word)" means the origin of the particular word. When talking about place names, there is a specific term, toponymy.(5)

ژباړه:

ايتمولوژي د لغتونو د ريښو تاريخي څېړني ته وايي چي څرنګه يې د وختونو په پوړيو کښي په معنايي لحاظ د دوی له نورو ضميمو سره تغيير کړی دی. همدا ډول ايتمولوژي د لغتونو ريښه او منشاء د نورو ځانګړو لغتونو سره څېړي. خو کله چي د ځايونو د نومونو په هکله څېړنه کوو دا بحث د (ژبپوهني) په توپونيمي ځانګه پوري اړه پيدا کوي.()

Etymology is the study of the origin of words and how the meaning of words has changed over the course of history. Let's get Meta and take the word *etymology* as an example. *Etymology* derives from the Greek word *etumos*, meaning *true*. *Etumologia*was the study of words' *true meanings*.(6)

ژباړه:

ايتمولوژي د لغتونو د ريښي او منشاء څېړنو ته ويل کيږي او ښيي چي په يوه لغت کښي د تاريخ په اوږدو کښي کوم معنايي تغييرونه راغلي دي، (وروسته به د ايتمولوژئ لغت په ځينو تحولونو

---

۲. همدا اثر، ۷ مخ.
3. Cambridge Academic Content Dictionary.
4. Oxford Dictionary.
5. From Wikipedia, the free encyclopedia.
6. CRISTINA GUSANO, An Introduction To Etymology: Eight Great Word Origins, JUN 15, 2016,P1

او بولګه ونو کښي راوړل سي.) د ایتمولوژۍ کلمه د یوناني ژبي له etumos ایتموس څخه راوتلي چي د حقیقت او واقعیت معنا ور کوي. (ایتومولوجیا) د لغتونو څېړني ته وایي چي د حقیقت او واقعیت معنا ښندي.
په بریتانیکا کښي :

Etymology, the history of a word or word element, including its origins and derivation. (7)

ژباړه: ایتمولوژي د لغت تاریخ او دلغت اصل او مبنا څېړي همدا ډول د یوې کلمي اشتقاقي ریښه رانغاړي.

Etymology” the study of word origins is etymology. The word etymology has an interesting origin itself ETYMOS=true meaning. LOGOS study or science.
The first part ETYMO derives from the Greek word. ETYMOS which means true meaning. The second part LOGY derives from the Greek LOGOS which means study of true meaning. When we see the importance of etymology and start looking up word origins ourselves we begin to realize that we’ve found the key to whole new understanding.(8)

ژباړه:ایتمولوژي دیوه لغت د ریښي څېړلو ته وایي. ایتمولوژۍ په خپله یوه په زړه پوري ریښوي سوژه ده. ایتموس د حقیقت او واقعیت په معنی ، لوګوس یې د پوهي او څېړني معنا ښندي.
په اصل کښي دا نوم له دوو مورفیمونو څخه جوړ دی، لومړی مورفیم (ایتمو) د یوناني ژبي د ایموس څخه راوتلی د حقیقت معنا ورکوي. دوهم مورفیم یې لوژي هم د یوناني ژبي د لوګوس کلمي څخه ریښه اخلي چي د حقیقي معنا څېړلو پوهي ته وایي. کله چي د ایتمولوژۍ اهمیت ته وکتل سي او له ځان سره د لغتونو د ریښو پلټنه کوو هڅه مو داوي چي دیوه لغت د ریښي کیلي پیداکړو او پري پوه سو.
تر نولسمي پېړۍ مخکښي یا په بله وینا تر نوي لغویانو مخکښي ایتمولوژي د لغت اصل او تاریخ په پر سم او منظم بنسټ ولاړ نه و. که څه هم ځیني څه ناڅه سمي ایتمولوژیکي هڅي د مخکنیو لیکوالانو له خوا سوي دي خو ډېر لږ يي داسي دي چي له لومړي سره نیولي تر ورستي پوري سمي پایلي ته رسېدلي وي. دې ډول ایتمولوژیکي څېړنو ته د دودیزو ایتمولوژیکي څېړنو نوم ورکولای سو.
د ږغ پېژندني په تاریخي تحولاتو یا په بله وینا د ژبو د تحول په څرنګوالي کښي په بلدتیا او د هغوی تر منځ اړیکي د بېلابېلو ژبو د لهجو او متونو په راټولولو سره د ایتمولوژۍ په لاره کښي ډېر پرمختګ رامنځته سو چي دې کارونو او زحمتونو علمي ایتمولوژۍ(ریښه پوهني) ته لاره خلاصه کړله. داسي چي نوې ایتمولوژي نن پر سمو او منظمو ږغ پېژندونکو او معنا پېژندونکو اصولو تکیه لري. پاته دي نه وي چي په څنګ کښي یي غلطي ایتمولوژیکي څېړني هم سته چي په ښکاره په علمي لفافه کښي پیچلي دي خو په حقیقت کښي د نوې منلي علمي ایتمولوژۍ سره سر نه خوري. دا ډول څېړني ایتمولوژي وزمه بللای سو، نه علمي ایتمولوژي.(۹) پخوانیو پوهانو به په خپلو څېړونو کښي د (وجه تسمیه) او (اشتقاق وجه) تر عنوانو لاندي لغتونه او کلمات څېړل چي مقصد به یي ورڅخه همدا ایتمولوژي وه. څکه د (*اسماعیل بن حسین جرجاني*) له تعریفاتو څخه: د یوې کلمي څخه دبلي را ایستل په دې شرط چي په معنا او ترکیب کښي سره نژدې، مناسب او په صیغه کښي سره توپیر ولري اشتقاق بلل کیږي. له دې تعریف سره اشتقاق د Derivation معدل بلل کیږي چي د لغت جوړوني له ډولونو څخه یي د ایتمولوژۍ له تیورۍ څخه بللای سو. د نوي ایتمولوژۍ بنسټګر انګریز قاضي (سرویلیام جونز) دی.نوموړي په ۱۷۸۶م په خپله یوه وینا کښي پر دې ټینګار وکړ چي لاتیني، یوناني، او سانسکریت ژبي له یوه اصله او نسله څخه شمېرل کیږي. ژبپوهان په مختلفو وختونو کښي د لغتونو ریښي ته د معنا او مفهوم له مخي کتنه کوي او د یوې ژبي لغتونه بلي ژبي ته د تحول جریان څېړي څکه د ژبو اغېز متقابل وي.(۱۰)
دودیزه ایتمولوژي
دودیزه یا عامیانه ایتمولوژۍ ته (په آلمانی: Volksetymologie)، (په انګریزي: Pseudo-etymology, Folk etymology) وایي او د ایتمولوژۍ له څانګو څخه شمېرل کیږي چي د لغتونو لومړنی بڼه، تاریخي تغییر او تحول یي تر څېړني لاندي نیسي. د دودیزي ایتمولوژۍ اصطلاح د لومړي ځل لپاره الماني تاریخ لیکونکي او کتابدار ارنست ویلهلم فورستهمان (Ernst Wilhelm Förstemann) رواج کړه او په خپله هغه مقاله کښي چي د (الماني

7. Encyclopaedia Britannica,p1
8. see, the wonder of words,pp,15-16
۹ قایم مقامی، احمد رضا: ریشه شناسی، شبه ریشه شناسی، فرهنگستان زبان، ۱۳۹۳ ش، ص،۱
۱۰ مهدی محسنیان راد، ارتباط شناسی، سروش، ۱۳۶۹، ص ۱۷۴


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

ژبې دودیزه ایتمولوژي) نومیږي، په ۱۸۵۲م په مجله کښې خپره سوې په دې برخه کښې مفصل بحث لري. له دې وروسته نورو ژبپوهانو هم دا اصطلاح وکاروله او پراخ بحثونه یې پر وکړه.(۱۱)
سویسي ژبپوه (فردینان دو سوسور) دودیزه ایتمولوژي دا ډول تعریف کړی ده: ( د نا اشنا لغتونو د تقریبي توضیح لپاره هڅه یعني له هغه څه سره د یوه(لغت – کلمې) پیوند ورکول چې پېژندوی وي. همداسې د دې ډول نا پېژانده لغت لپاره ساده تفسیر پیدا کول دودیزه ایتمولوژي بلل کیږي.(۱۲)
د عامیانه یا دودیزې ایتمولوژۍ د راڅرګندېدو د پاره لاندیني دلایل ښوول سوي دي:

۱: ږغیز تغییرونه
ږغیز او هجایي تغییرونه هغه دي چې د تاریخ په اوږدو کښې بدلون کوي. تر دې چې د ژبې د سهولت او اسانتیا په خاطر ځیني فونیمونه له کلمو څخه حذف کیږي او یا هم د ژبې د اسانتیا لپاره ځیني فونیمونه پر کلمو ور اضافه کیږي.

۲: د کلمو هېرېدنه
له یوه مرکب لغت څخه د یوې کلمې او یوه مورفیم هېرېدل هغه وخت رامنځته کیږي چې د را وروستو نسلونو لپاره نا اشنا وي، دوی اړ کیږي چې دیوه بسیط او مرکب لغت یوه برخه حذف او یا یې تول لغت واړوي. لکه: فاتحه= پاتیه/ صلاة= لمونځ/ خلاص=خلاصون

۳: لغوي پورونې
پورونې هم په دودیزه ایتمولوژي کښې ځیل اغېز لري. خلک د یوې ژبې کلمات خپلې یا بلې ژبې ته په پور اخلي. ځیني پورونې داسې تغییرونه و مومي چې نوي نسلونه یې په معنا او مفهوم نه پوهیږي او د هغه ریښه په نورو ژبو کښې لټوي. لکه معرب جرجان چې اصل یې ګرګان دی؛ سراج چې اصل یې څراغ دی.
په تولیزه توګه ویلای سو چې دودیزه ایتمولوژي په یوې ژبه پورې اړه نه لري بلکې د نړۍ په تولو ژبو کښې سته او په هره اجتماعي او فرهنګي برخه کښې راڅرګندېدای سي. چې بېلګې یې کېدای سي چې کابل، قندهار، هیلمند، کوټه او کراچي او نور نومونو کښې و پیداکړو .بولکه : کابل په دودیزه ایتمالوژۍ – دري ژبه کښې د (کاه+ پُل = د پروړو څخه جوړ پُل)/ هیلمند په دودیزه ایتمولوژۍ کښې د ( هیله+من) په معنا/ قندهار ( قند+ هار = دقندو امیل)، کوټه ( دکوټنی او بارې) په معنا، کراچي( دګاډۍ) په معنا او مفهوم په داسې حال کښې چې نوې علمي ایتمولوژي په پورتنیو تعبیرونو باور او تکیه نه لري.
یا په پښتنو کښې د ساکانو (ساکزیو) لرغوني قبیله چې د هندي ژبې د شکا کلمې سره یې چې د سبو او سبزیجاتو معنا لري تړاو ورکول د دودیزې ایتمولوژي باورونو څخه دی؛ په داسې حال کښې چې د علمي ایتمولوژۍ پر بنسټ د مجارستانی ژبپو (اسوالدسمرنیي) د څېړنې له مخې سکا(ساکزي) د تېز او چټک معنا ورکوي.
یا هم په الماني ژبه کښې د kaffeebohne (قهوه) کلمه په دودیزه الماني ایتمولوژۍ کښې له دوو برخو جوړ ګڼي، لومړی (kaffee=قهوه)، دوهم (bohne =لوبیا) چې دقهوې د میده دانو لپاره استعاره ده تعبیر سوی ده. په داسې حال کښې چې د معاصري علمي ایتمولوژۍ له مخې دا کلمه په اصل کښې د عربي ژبې د (البُنّ) له ریښې څخه اخیستل سوې چې د (قهوې د مېوې) معنا ورکوي.(۱۳)

✓ **د ایتمولوژیکي څېړنو شرایط**
ایتمولوژیکي څېړنې ځانته یو شمېر ځانګړي شرایط لري چې یو ژبپوه یې باید په خپلو ریښه پوهنیزو څېړنو کښې په پام کښې ونیسي:
کله چې یو ریښه پوه د یوې کلمې د اصل او ریښې د پیداکولو لپاره اقدام کوي، تر ږغیزو او فونیمکي څېړنو مخکښې اړتیا ده چې د هغې کلمې تاریخي مخینه، معنا او بېلابیلي بڼې و لټوي.
۱. مخکښې له دې چې د اړوندې کلمې ریښه په لرغوني هندو اروپایي، هندو آریاني او دې ته ورته ولټوي باید خپلو نژدې ژبو ته لکه زره پښتو ، پامیري، نورستاني، باختري او اوستایي ژبو ته پاملرنه وکړو حتی که پخپله په همدې ژبه کښې د یوې کلمې د ریښې لټه وکړو د ځینو عرب نحویانو په باور مو صغیر اشتقاق یا غیري تاریخي اشتقاق کړی دی.
۲. یو ایتمولوژیستetymologist او ریښه پوه باید یوازې په ریښه پېژندنه کښې پر قاموسونو، فرهنګونو او لغتنامو هم تکیه ونه کړي یعني یوازې په قاموسونو سره نه سو کولای د یوه لغت ریښه پیدا کړو، اړتیا ده چې د یوه لغت د ریښې موندلو لپاره هماغه پخوانیو منثورو – منظومو متونو ته هم کتنه وسي چې اړوند لغت پکښې کارسوی

۱۱ امیري، یوسف، ریشه شناسی عامیانه، مجله انسان وفرهنګ سال دوم، شماره ۳، ص۱۰۳
۱۲ هماغه اثر او مخ.
۱۳ ریشه شناسي عامیانه، ۶ مخ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وي لکه د (من، دبنن) زړي کلمي د پټي خزانې، تذکرة الاولیاء، خیرلبیان، مخزن، خوشحال ختک او نورو کلاسیکو منظومو او منثورو متونو کښي ولټوو. یوازي پر قاموسونو تکیه په هغه وخت کښي جواز لري چي پر اړوند کلمه او لغت د ژبپوهانو او ریښه پوهانو اتفاق وي او په صحت کښي یې کوم شک نه وي.
ځیني وختونه ژبپوهان د څو ژبیزو قاموسونو څخه کار اخلي او په هغه کښي په شکلي لحاظ ځیني کلمي سره نژدې ویني د هغو ریښه یوه وبولي داسي هم نه ده، باید د هر لغت لومړی کورنۍ پیداسي چي د هندواروپایي کورنۍ دی که د سامي یا بلي...؟
د ریښنوي قاموس او فرهنګ(١٤) د لیکلو لپاره تر ټولو غوره داده چي ډلییز کار وسي او که په یوازي سر دا کار کیږي نو باید یو ایتمولوژیست په ژبپوهنه، تاریخ، ادب، ټولنپوهنه، وګړپوهنه، متن پوهنه، نسخه پوهنه کښي ژوره مطالعه ولري تر ټولو مهمه دا چي په لرغونو ژبو کښي بلدتیا ولري، د لغتونو دتعریفاتو او تصریفاتو څخه ځان خبر کړي.
٣. پر معیاري او اصلي متونو سربېره یو ریښه پوه باید دیوې کورنۍ دژبو لغوي پانګه او لهجې هم وګوري د یوه لغت ټول ډولونه په بېلابېلو لهجو کښي ولټوي او د هغه په لفظي او معنایي توپیرونو ځان پوه کړي، همدا ډول د هغه لغت په رانقلولو کښي باید زماني واټن په پام کښي ونیول سي. بولګه : یو لغت په یوه لهجه کښي تاریخي مخینه نه لري نو وکتل سي چي څه ډول او له کومي لاري یې دلته لاره پیداکړې ده او څه ډول یې د هغې لهجې له ژبني قواعدو سره ځان عیار کړی دی.
٤. لکه مخکښي چي ورته اشاره وسوه د ریښه پېژندني تر څنګ باید په لرغونو ژبو هم وپوهېږو، وګړپوهنیز او دخلکو عامه فرهنګ ته هم تامه او تمامه پاملرنه وکړو دا چاره هله ډېره ګټوره ده چي کله د یوه پور سوي او پردي لغت رانتوتل خپلي ژبي ته تر څېړني لاندي ونیول سي.
٥. د پام وړ ټکی دادی چي د یوې ژبي عام کلمات هم د سریو او ځاینومونو څخه بېل کړل سي خو په عامو کلمو کښي چاڼ او چین ونه سي، پرېښودل سي او وکتل سي چي ولي یوې کلمي دحقیقي پر ځای مجازي معنا خپله کړې ده. داهم معلومه سي چي معنا یې له کومه ځایه اخیستې ده یا ولي په یوه ځانګړي فعل کښي کارول سوې ده.
٦. که چیري یو لغت بلي ژبي ته ننوتلی وي نو په کار ده چي ږغیز قواعد یې په خورا جزییاتو سره د خپلي ژبي په مختلفو دورو او نورو ژبو کښي په پام کښي ونیول سي او دټولو ژبنیو تحولاتو څخه یې ځان خبر کړي.
٧. د یوه لغت بېلابېلي معناوي په ټولو دورو کښي او هم په نورو ژبو کښي وپلټل سي.
٨. د صرفي او اشتقاقي قواعدو او لغتونو ترکیب او ترتیب په جزییاتو سره و پېژني. له دودیزو ریښوي څېړنو څخه ځان وساتي، داسي نه چي په لرغونو آریاني ژبو کښي هر ورستاړی ممکن په هري کلمي پوري وتړي یا هم هر وروستاړی په هره درجه لغت که کمزوری هم وي و کارول سي یا هم دکلمي بنه د لومړی اودوهم جز په ترکیب سره جوړ سي او یا هم دې ته ورته...
٩. سمه ده چي ایتمولوژي په خپله ژبه کښي د لغت د تاریخ پر تتبع او شواهدو ولاړه ده او همدا ډول په نژدې او لیري یوکورنیو او غیري کورنیو ژبو تکیه لري نو یو ریښه پوه باید پوه سي چي یو لغت کله پیدا سوی دی؟ ولي پیداسوی؟ او له کله یې مجازي معنا خپل کړې ده؟ د نړۍ په کومه برخه کښي پیداسوی او کومي ژبي یا ژبو ته ننوتلی دی؟ بیا فکر پکښي کیږي خپل فکر باید و ازمویل سي چي ایا په معنایي لحاظ خو به ستونزه نه لري. ایا دې ته ورته بل معنایي تحول په بل ځای کښي موندلای سو؟ په ږغیز لحاظ څه ډول؟ ایا کولای سو چي د نورو اټکل رد کړو او خپل اټکل ثبوت او ثابت کړو؟ زموږ اټکل د نورو پر هغو څه غوراوی لري؟ له هرڅه مخکښي باید وګورو چي زموږ اټکل نوي شواهد یا د مخکنیو څېړونکو رایي تاییدوي او یا هم لازمه ده یو بل نظر وړاندي سي یایي بیخي اړتیا نه وي. په ځانګړې توګه کله چي د ځینو مخکنیو څېړونکو اطلاعات په ټولیز او لنډیز ډول غلط وي باید جدي پام وکړو چي پر تیرو تېروتنو د تایید بله رایه ور زیاته نه کړو او هغه په پټو سترګو ونه منو.

**په ایتمولوژی کښي ځیني ږغیز مسایل:**
د ژبي اساس فونیمونه او ږغونه دي چي له خولي څخه راوځي کله چي دا ږغونه سره یوځای سي مورفیمونه او کلمي ځیني جوړیږي د ږغونو د ښکاره کولو لپاره ځیني شکلونه وضع سوي چي ګرافیمونه او حرفونه یې بولي. د ژبو د ږغونو تاریخي تحولات، د هغوی په ټولو مراحلو کښي لومړی شی -خیز دی چي یو ریښه پوه یې باید په پام کښي ولري یوازي دومره پوهېدل چي دا لغت هغه بل سره قریب المخرج دی نه سو کولای په ریښه پوهنه کښي تخصصي کار وکړو او عام منلي نتیجه ځیني را وباسو. همدا ډول یوازي په حذف او ابدال چي له پخوا څخه په ختیځ او لوېدیځ کښي پېژندوی دي نه سو کولای ریښه پوه و اوسو. ږغیز تحولات ممکن په یوې ځانګړي سیمي پوري اړه ولري خو ژوند یې په بله سیمه کښي کړی وي که څه یې هم واټن لیري یا هم امکان لري د یوې ژبي په ځانګړي

١۴.	علامه پوهاند عبدالحی حبیبي . د پښتو ادبیاتو تاریخ ٢ ټوک ، ۵۵٢، ۵۶۵مخونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

دوره پوري اړه ولري او په نورو دورو کښي نه وي رعایت سوی. د بولګه په ډول په ځینو لهجو کښي ږغیز قواعد ورو او سوکه رامنځته سوی دا حالت د داسي لغتونو د رامنځته کېدو سبب سو چي دې ته Doublet = د دوه ګونې بڼي لغتونه وویل.(١٥) د دې مطلب بل اړخ دادی چي په د ژبي په یوه پراخه سیمه کښي ږغیز تحولات معمولاً یو ډول وي، که چیري یوه کلمه په یوه ژبه یا هم یوه لهجه کښي ولیدل سوه بله بڼه یې د بلي لهجې بلل کیږي یعني یو دخیل لفظ دی. لکه: د پښتو ژبي په لوېدیځه لهجه کښي ځوز، تندی، نوکاره ؛ په ختیځه لهجه کښي اغزی، تڼده، تڼونګه.د دې خبري پایله دا ده چي د دوو ژبو دتحولاتو په منځ کښي لیري یا نژدې التقاط(چاڼ=چین) وکړو. کله چي یو ریښه پوه د کلمې په ږغیز تحول کښي ګیر راغی داسي قواعدو ته لاس اوږد نه کړي چي په خپله ژبه کښي یې ژبني شواهد ونه لري. په داسي حالاتو کښي باید ږغیز تحولات پر ژبنیو اسنادو په سپړنیز او استقرایي توګه استنتاج کړي او ددې ډول تحولاتو ځای او تاریخ د تاریخي او جغرافیایي شواهدو یا هم د لهجه پېژندني او نسخه پېژندني په مټ څرګند کړي. که یې بیا هم ونسوای کولای چي یاد تحول معلوم کړي او یا یې هم زمان او مکان وټاکي لږ تر لږه هغوی ته ورته کلماتو ته هم په ګاونډیو او که امکان ولري د نړۍ په نورو ژبو کښي سر ورکړي. خو په ژبه او لهجه کښي ږغیز قواعد تل نه مراعتیږي. له دې جملې څخه د کلماتو د ګاونډیتوب او قیاست په سبب، لکه: نابلده او ناولده، ځار او جار، ځری او استازی، ځیږ او جیږ، ځپېړه او چپلاخه اونور... بللای سو.
ځیني کارېدونکي کلمې او عبارتونه ممکن مشدد سي یا دژبي د نورو لغتونو سره یې تحول سوکه او متفاوت سي. لکه: ځیني اوستایي کلمات چي پښتو ژبي ته ننوتي دي. بولګه : tīdag=gadlt=تیدګه=سترګه، چي اوستا کښي د لیدل فعل معنا هم لري. یا هم اوستایي: =nazurd= drozan= دروزن <دروغزن<دروغجن<د پښتو په لوېدیځه لهجه کښي درواغجن سوی دی.
همداسي ځیني یوناني کلمات چي په apo او upo او دې ته ورته پیلیږي، په عربي ژبه کښي د سامي قاعدې له مخي (ابو) سوی دی لکه: (poseidon) چي (بوصیدون) سوی، (apokalamon) چي (بوقلمون) سوی دی. یو ریښه پوه باید دې بېلګو ته پام وکړي بې موجبه د (بوقلمون) او (بوصیدون) کلمې په عربي قاموسونو کښي ونه لټوي بلکښي هندو اروپایي او یوناني ریښه یې پیدا کړي تر څو د کلمې ریښې ته ځان ونه رسوي حقیقت هم نه موندل کیږي(١٦)

## ایتمولوژي او معنایي تحولات

تر ږغیزو تحولاتو وروسته په دوهم پړاو کښي معنایي تحولات د ایتمولوژیست لپاره د کلماتو په ریښه پیداکولو کښي لوی معیار ګڼل کیږي. دکلمې تر ریښې پیداکولو وروسته په مختلفو دورو کښي د یوې کلمې د معنا پیدا کول اړینه چاره ده. بولګه : یو ایتمولوژیست(ریښه پوه) له برهان قاطع دوهم ټوک ١٧۴مخ څخه د (ختا) کلمه را اخلي او بېله معنایي ډاډه هغه د پوکورني او ریکس، پوهانو (١٧) د هندو اروپایي ژبو له قاموسونو سره ګوري او په ریښه او معنا یې سره وصل کوي نوم چي یې هرڅه وربانديکښېښود! دا ډول کس ریښه پوه نه سو بللای، ځکه د (ختا،خطا، خطای) مختلفي بڼي په اسلامي متونو کښي ډېري راغلي دي، هو؛ د کلمې تعیین ستونزمنه چاره ده، په هر حال دا اوس یو جغرافیایي نوم دی چي د چین پر شمالي برخه(منجوري، مغولستان او ترکستان) باندي اطلاق کیږي.(١٨) جالبه داده چي ډېری څېړونکي دا تېروتنه کوي. بل بولګه (پوتونګ خوا ١٩普通话=Putonghua) د چین معیاري ژبي ته وایي موږ نه سو کولای چي دا د (پښتونخوا) سره همریښه او یا له هغه مشتق و بولو. دا ډول کلمات اتفاقي وي په ایتمولوژیکي لحاظ مځکه او اسمان فرق لري. په ریښه پېژندنه کښي لومړی کار دادی چي د تاریخ په اوږدو کښي د یوې کلمې سمه معنا له ستې څخه پیدا کړو چي دا کار بیا هم ځانته خپل اصول لري:
١: دیوه لفظ معنا په استقراء سره لاس ته راځي نه د اشتقاق له مخي. د تاریخي ژبپوهنې له مخي دیوې کلمې ریښه موندل او د هغې تړل له معناپوهني سره د ننني منطق له مخي موږ اصلي معنا ته نه رسوي. په بل ډول تاریخي معنا پوهنه یوازي په معقول او منطقي دلیل بېله شواهدو شی- څیز نه سي ثبوتولای. دا رایه د اشتقاق په اړوند هم ده. اشتقاق هغه وخت د یوې کلمې د معنا د تعیین لپاره کاریږي چي نوري لاري له کاره لوېدلي وي. د ژبپوهانو علاقه دا وي چي په ریښه پوهنه کښي په مبهمو متونو او عباراتو کښي د یوې کلمې د معنا موندلو لپاره اشتقاق ته مخه کړي. چي دا چاره پخپله یوه تېروتنه ده. بولګه: kartu=کارتو په اندوآریاني کښي د قدرت په معنا دی مګر په آریاني ژبو کښي یې په ښکاره(د فکري ځواک) په معنا ځانګړتیا پیدا کړې ده او اغلب چي د (عقل او حکمت) معنا یې خپله کړې ده. په دې بولګه کښي موږ وروستۍ معنا د لغت د استعمال له مخي تر لاسه کړله نه د اشتقاق له مخي. یا هم

---

15. etymologic dictionary.

١٦ دا هغه ژبنی حالت دی چي د دوو لغتونو څخه هر یو یې له دوو بېلو لارو خو یوې منبع راغلی وی. لکه: کانی، ډبره، تیره، ګرګه، پرښه، ګاره.

١٧ قایم مقامی، ریشه شناسی و زبان فارسی(مقاله)، مجله فرهنګ نویسی، شماره، ٩، ١٣٩۴ش، صص، ٥٣-٥۴

18. Pokorny - Rix .

١٩ برهان قاطع، دوهم ټوک، حواشي، ١٧۴ مخ، د قاموس اعلام ترکي په حواله.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

داسي د (مهر) لرغونې معنا (ترون) ده خو په پښتو ژبه کښي يې بيا داستعمال له مخي معنا(مينه او محبت) ده چي دا معنايي موندنه د اشتقاقي معنا سره واټن لري.
۲. بايد ارکاييکو متونو(۲۰)(په ځانګړې توګه حماسي) او نورو ته قايل و اوسو. سربېره پر دې هغه څه چي په نوې ژبه کښي شاعرانه او لرغوني بريښي خو د ژبي په لرغونو متونو کښي ممکن د هغه وخت د ورځنيو کلماتو اړوند وي پوره پام وکړو، په داسي ځای کښي کېدای سي اشتقاق د يوې کلمې د معنا په پيداکولو کښي ډېر په کار راسي. په پښتو ژبه کښي په ځانګړې توګه د پټې خزانې په برخه کښي بايد ډېر احتياط وکړو ځکه دپټې خزانې په منظومو او منثورو برخو کښي چي کوم کلمات راوړل سوي ډېری يې نن ورځ په هماغه پخوانۍ معنا نه دي. يا هماغه کلمات په روښاني او خوشحالي عصر کښي په معنايي لحاظ لږ و ډېر توپير لري. د سليمان ماکو(تذکرة الاولياء) د ملکيار غرښين(۵۸۰هـ) په برخه کښي لولو:(نقل کاوه شي چي په جوبله کي مسلمانان تر شا ولاړه ...) د نننۍ محاورې سره جوبله نه وايو (جنګ – جګړه) وايو. په پټه خزانه؛ د ښکارندوی په قصيده کښي د (لونل) کلمه اوس پاشل او شيندل وايو، (زلما) اوس زلمی وايو، چونړی= بلبل، اشلکونه = شعرونه وايو.
۳. بايد هغو کلمو ته چي په واحدو ترکيبونو او يا په يوې ژبي کښي ورته او يا هم د يوې کورنۍ يا ژبڅانګي په دوو ژبو کښي کارېږي پام وکړو او هغه ټينګ و سنجوو تر څو د معنا حدود او يا هم دقيقه معنا تر لاسه کړو. پر دې سربېره معلومه سي چي ايا په يادو دوو ژبو کښي دوې همرېښه کلمې په معنا کښي سره يو دي يا نه؟ بولګه دا ښوولای سو چي د شيخ اسعد سوري (۴۲۵ هـ) په قصيده کښي د (جاندم= دوږخ، دوزخ) به څه ډول له جهنم څخه تحول کړی وي ، داسي همدې قصيده کښي د (زرغا) کلمه اوس د زرغونتيا، سمسورتيا او شنګياه په معناوو کارېږي نه په هغه زر کلنه بڼه.
برنفرېډ شلرات(SCHLERATH,1968) په ويدا او اوستا کښي دې ته ورته خورا ډېر تغييرونه او تعبيرونه راټول کړي دي. ژبپوهان ښه پوهېږي چي داډول مشابهتونه د مبهمو کلمو او جملو په فهم او معنا کښي څومره رول لري!
۴. بايد هغه ورته معنايي تحولاتو ته که څه هم له دوو متفاوتو رېښو يا څو مختلفو ژبو څخه راغلي وي پام وکړو. بولګه : د اوستا ژبي( Cxab=baxṣ= بخښ) په پښتو ژبه کښي بخښنه او په پاړسي کښي بخشش ده(۲۱). له يوې اوستايي رېښې سرچينه اخلي او په دواړو ژبو کښي په يوه معنا کارېږي. يا هم د اوستا ژبي natNad =daṇtan دېتان= د پښتو ژبي = dāṇəدانه<داړه= dā ṛə په پاړسي (دندان) سوی دی.معمولاً ټول رېښه پوهان په دې ټکي پوهېږي خو په دې ډول پرتلنه کښي بايد بيا هم احتياط وسي. بولګه : ايلياګرشويچ(GERSHEViTCH۱۹۵۹) د يوه لغت د دوو معناوو په توجيه کښي ورک دی لکه: سيره/ciϑra د (اصل او ټبر) په معنا يې د (دوش ګيمن) نظر ته يې ارزښت ورکړی دی او هغه يې بيا د لاتيني ژبي د (species) سره پرتله کړی دی چي د (صورت) ، (نوع او ډول) معنا ښندي د (specere= ليدلو) څخه مشتق بولي او بله يې لا دا چي په باور يې دا لاتيني لغت په حقيقت کښي د يوناني ژبي (eidos) څخه راوتلی بولي چي هغه هم د (ديدن) په معنا له رېښې څخه مشتق دی او د (ډول، نوع او صورت) معناوي ورکوي اول دا چي د د يوناني ژبي د (eidos) څخه د سيره/ciϑra اشتقاق هيڅ رېښوي – ايتمولوژيکي اساس نه لري. خبره دلته ده که چيري د (ګرشويچ او ګيمن) پښتو ژبه زده وای ته وا ډېر ژر به دې پايلي ته نه وای رسېدلي چي د سيره/ciϑra لغت د پښتو ژبي د (څېره ceraà) د (صورت، شکل، نوع او ډول) په معنا سره کټ مټ يوه ده چي په اوستا کښي هم په خورا لږ توپير په همدې بڼه او معنا (arqic=čiϑra = چيڅره) راغلی دی. د دې يوه لغت او لفظ څو بڼي او معناوي د ايتمولوژيکي تحول د حاصل پايله ده چي بې ځايه شنني او ستړياوي يې د دې ډول څوګوني علت په فهم کښي هيڅ مرسته نه سي کولای. په پای کښي ويلای سو چي د (دوشن ګيمن او ګرشويچ) رايه که څه هم په راوروسته کښي بيا - بيا تکرار سوې ده د ايتمولوژۍ له مخي سمه نه سو بللای.
۵. د خلط، مشابهت او يا ګاونډيتوب په سبب يوې کلمې د بلې کلمې سره د هماغي ژبي يا هم پردۍ ژبي سره معنايي تغيير او توپير کړی وي، بايد د معنا په ټاکلو کښي يې دې ټکي ته پام وکړو او په رېښه پوهنه کښي هم ورته توجه وسي. بولګه : د اوستايي ژبي (رازه=zAr = rāza) فعل د (تللو) په معنا په پښتو ژبه کښي(ځه) او په معکوسه معنا (راځه) حالت غوره کړی دی.(۲۲)
۶. د کلماتو د معنا په فهم او د هغو د رېښو د لاسته راوړلو په وخت کښي بايد د وضعي په سبب د هغه د معنا تغيير ته پام وکړو. دلته مقصد هغه زاړه کلمات دي چي په نوي معنا اوښتي وي. بولګه : هنر او دفتر هغه زاړه کلمات دي چي له زړو رېښو څخه جوړ سوي دي هنر د اوستايي ژبي څخه راغلی آره بڼه يې aranuh,:( hunara:هُنره =

۲۰ شريف الله دوست(سرواني)، دچينايي ژبې آسانه زده کړه(journey to china)صداقت خپرندويه ټولنه-کندهار، ۱۳۹۲ش،۱۲ مخ.
21. (په اکسفورډ ډيکشنري کي د زړو او ارکاييکولغتونو پېژندنه داسي کوي):Archaic word and tixt;These words are no longer in everyday use or have lost a particular meaning in current usage but are sometimes used to impart an old-fashioned flavor to historical novels, for example, or in standard conversation or writing just for a humorous effect. /see oxford dictionary.
22. like, munificence.
۲۳. څېړنپوه، دکتور خليل الله اورمړ، مقدمهٔ برزبان اوستايی، اکاډمي علوم افغانستان، ۱۳۹۲ش، ص ۲۲۶


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څېر و لولئ

هنر) ده. يو ريښه پوه بايد د دې ډول کلماتو د وضع په تاريخ خبر وي، داسي نه چي وايي(سپانځه(سپند) دپهلوي ژبي د (سپندspand) او دا بيا د اوستايي ژبي له (سپنتا= spənta) د (پاک او مقدس) په معنا راغلی دی. ځکه نه دا دوې کلمې پهلوي او اوستايي دي او نه هم د پښتو ژبي په لرغونو متونو کښي اوړد تاريخي شاليد لري.
۷. د ځينو کلماتو دوهمه، دريمه او يا څوومه معنا ممکن تر پيړيو وروسته د هغې کلمې لومړی معنا سي. بولګه : د آوار کلمه چي پخوا يې د (چور- لوټولو)، (زورزياتي) او (رنځ) معنا لرله نن يې بيخي څلورمه معنا خپله کړې ده چي ډېر استعمال نه لري. پر دې بنسټ يو ريښه پوه بايد لرغوني معنا پيدا کړي. پر دې سربېره کېدای سي ځيني کلمې د مختلفو دلايلو له مخي مجازي معنا هم خپله کړي. چي دا ډول تحولات تل عادي نه وي. په اوستايي ژبه کښي /adba =abda/ د جالب او فوق العاده په معنا، دا لغت په نورو را وروسته دورو کښي هم موندل کيږي. د دې لغت اصل (نه تېرايستونکی) د مفعولي صفت/adbda/ له کمزوري ريښي /dab/ له بني ځخه د (تېرايستلو) په معنا(وګورئ د بارتولمه د قانون اغيز- مقاله) چي دې ته ورته لفظ په ويدا کښي /adbhut/ ديزيدانو لپاره صفت دی چي له دې ځايه يې ماوراءالطبيعي امر او وروسته هر فوق العاده شي اخيستې ده. يو ريښه پوه بايد تل د معنا په برخه کښي مختلف تحولات په پام کښي ونيسي.
۸. که چيري په فرضي اشتقاق کښي چي يوه ريښه پوه د اټکل له مخي پيدا کړي وي ناچاره، نامعقول معنايي تحول ته قايل سي نو لومړی کار چي بايد وکړي دادی چي ږغيز او صرفي تحولات بايد وڅېړي ښايي اسانه توجيه ورته پيدا کړي، د بارتولومه دقانون له مخي دمِښي واکدار انسدادونه(bh,dh,gh) که تر (t او s) مخکښي راسي په لرغوني هندي کښي خپل دمِښي t او s ته ورکوي دا دوه د خپل ځان سره ورته او واکدار کوي.بولګه : /budhfta Buddha کيږي، په لرغوني اوستا کښي هم دا قاعده رعايت سوې خو طبعاً دمِښي نه کاريږي. هرکله چي په آلماني ژبه کښي چي /s/ تر (p,t) مخکي راسي د (ش) آواز ورکوي لکه (Sport= شپورټ= سپورټ/student= شټوډېنټ= زده کوونکی) خو دا دوې کلمې په يوه معنا د انګريزي ژبي د قاعدې له مخي نه پلې کيږي ځکه په انګريزي کښي د (س) آواز ورکوي.
۹. په ريښه پوهنه کښي لازمه ده چي واسطې په معنايي تحول کښي معلومي سي. بولګه (پتياره) پخوا اغلب د (ښمن او ښځينه(دښمني، بد او مصيبت) په معنا وه چي اصلي بنه او معنا يې په اوستا کښي (پئتي ار/ arA Itiap paiti ara : ډارمسټېر دښمن او اهريمن بللی)، همداسي د منافق، مخالف، مانع او ضد معنا هم لري. يعني هر شی چي د (اهورامزدا)د پيداکېدو مخه ونيسي. د فردوسي په شاهنامه کښي هم په همدې معنا راغلې:

بجستم زسلم و زتور سترگ
همان کين ايرج نياى بزرگ
جهان ويژه کردم ز(پتيارها)
نه از بهر پيكار (پتياره) كرد
(۵-۳۰۰-۱۰۸۸)
مگر مرگ كز مرگ خود چاره نيست
وزين بدتر از بخت (پتيار) نيست
(ناصر:۳۸۶)

په فرهنګ رشيدي، برهان قاطع او جهانګيري کښي يې معنا خجالت، شرمندګي، حيله او غوغا راغلې ده. دې لغت عربي ژبي ته هم لاره کړې او هورې په (ف) د (فتور) په بنه د فتني، فساد، نقص، خلل په معناوو راغلی دی. خوشحال خټک يې عربي پور بنه کارولې:

غم د زوړوالي په زړه هاله راشي
چه په غاښونو په ليمه (فتور) راشي
***
د ايمل (فتور) آغاز شو
د مومندو هم عنان شو

(کليات)
په پښتو تشريحي قاموس کښي پتارى/patārạ̄y: د ستونزو او کړاو اخته کولو په معنا راغلی دی. دا کلمه په نورو ژبو کښي هم کاريږي احتمالاً په نورو ژبو کښي له اوستا ځخه دخيل او پور دی. په زردښتي تصوراتو کښي (پتياره) د بدکاري ښځي په معنا ده چي دا کلمه اوس هم په پښتو ژبه کښي هغه اوستايي ريښه لري او د(پليته+ښځه) بدکاري، بدفعلي او ناپاکي ښځي ته وايي. ( پاته په بله برخه...)

**پای**


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ